Pashto

NOVA SCOTIA

# زده کوونکي څه ډول ارزول کيږي



## د درسي ټولګي ارزونې

ستاسو د ماشوم ښوونکی به ستاسو ماشوم مشاهده او و ارزوي تر څو د تدریس شویو مطالبو څخه د هغه د زده کړې یا درک اندازه وسنجوي. دا ارزونې به د درسي نصاب د پایلو او د هغه څه پر بنسټ ترسره شي، چې ستاسو ماشوم به یې په درسي ټولګي کې زده کړي.

ښوونکی په منظم ډول ستاسو له ماشوم سره غبرګون شریکوي تر څو پوه شي چې څومره په ښه ډول پر مخ روان دی. کیدای شي دا نظریات ستاسو د ماشوم سره د خبرو، زده‌کړې پر مهال د هغه/هغې د څارنې او هغو محصولاتو پر بنسټ وي چې ستاسو ماشوم د خپلو زده‌کړو د څرګندولو لپاره يې رامنځته کوي. په محصولاتو کې کیدای شي دندې، پروژې، پریزینټیشنونه او آزموینې شاملې وي. همداراز ښوونکی او ښوونځی کولای شي له دې معلوماتو څخه ستاسو د ماشوم د څارنې او پرمختګ د راپور ورکولو لپاره کار واخلي.

**په ښوونځي کې ستاسو د ماشوم د فعالیت په اړه له کورنۍ سره د ارتباطاتو ډولونه:**

- له ښوونکي سره بحثونه
- د دندو او کاري بیلګو په اړه نظریات، د لاسته راوړنو کچې، نمرې او سلنې
- معلومات چې په "PowerSchool د والدینو او زده‌کوونکو پورټل" کې شریک شوي وي، چې د زموږ په ویب‌پاڼه کې د "زده‌کوونکي او والدین" برخې له لارې لاسرسی ورته شونی دی: زده کوونکي او والدين | زده کړې او د ماشومتوب لومړی دورې پرمختګ (ednet.ns.ca).

د ارتباطاتو د ډولونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د نوي راغلي کورنۍ لارښود د دې پټې له لارې وګورئ "ستاسو د ماشوم له ښوونکي او ښوونځي سره څه ډول اړیکه ټینګه کړئ."

# د نمرو جدولونه

## له ښوونځي وړاندې دوره

**زده کوونکي له ښوونځي وړاندې دوره کې د نمرو جدولونه نه ترلاسه کوي.** ستاسو د ماشوم د ماشومتوب دورې ښوونکې (ECE) به ستاسو د زده کوونکي د پرمختګ په اړه وروستي معلومات له تاسو سره شریک کړي. کیدای شي دوی له تاسو سره د کارونو د بیلګو یا د خاطراتو د یادښت په څېر سند له تاسو سره شریک کړي، چې تشریح کوي ستاسو ماشوم د زده کړو په لار کې څه ډول فعالیت ترسره کوي. ECE به ستاسو د ماشوم له مشاهداتو څخه د خپلو تجربو د رامنځته کولو لپاره کار واخلي چې له هغوی سره د زده کړو په دوام کې مرسته کوي.

## لومړنی ښوونځی (له لومړني ښوونځي تر 6 ټولګي) او متوسطه ښوونځی (له 7 تر 12 ټولګي)

**زده کوونکي له لومړني ټولګي څخه تر 12 ټولګي پورې د نمرو جدولونه ترلاسه کوي.** د نمرو جدول تاسو ته وايي چې ستاسو ماشوم د ښوونیز کال په دې برخه کې د زده کړو په برخه کې څه ډول فعالیت ترسره کوي. کیدای شي ستاسو ماشوم د کورس، دورې یا سمستر په منځ کې، د کورس، دورې، سمستر په پای کې او همدارنګه د ښوونځي د کال په پای کې د نمرو جدول ترلاسه کړي. ستاسو سیمه‌ییز ښوونیز مرکز (RCE) / د اکاډیا ولایتي زده کړو شورا (CSAP) ویب‌پاڼه به د هغه مهال ویش ولري چې راپور کارتونه کورونو ته لیږل کیږي.

د نمرو جدولونه دوې برخې لري:

- د **زده کوونکي د پروفایل** برخه ستاسو د ماشوم د ټولنیزو مهارتونو او کاري خویونو په اړه معلومات وړاندې کوي.
- د **زده کوونکي د لاسته راوړنې**برخه، د هغو مهارتونو او مفاهیمو په اړه معلومات وړاندې کوي چې ستاسو ماشوم زده کړې دي. دا برخه به تاسو ته ووایي چې آیا ستاسو ماشوم د خپل ټولګي د کچې سره سم د زده کړو پایلو ته لاسرسی موندلی دی او که نه.

## له لومړنیو ټولګیو څخه تر 3 پورې

له لومړنیو ټولګیو څخه تر 3 پورې، د نمرو په جدول کې به د ژبې د هنرونو او ریاضیاتو په برخه کې ستاسو د ماشوم د پرمختګ په اړه نظریات شامل وي. نور مضمونونه، لکه روغتیا، د معلوماتو او اړیکو ټکنالوژي ((ICT)، ساینس، ټولنیز مطالعات او بصري هنرونه، د ژبې هنرونو او ریاضیاتو سره "یوځای شوي" دي، نو تاسو ممکن د خپل ماشوم د زده‌کړې په اړه په دې نورو مضمونونو کې هم تبصرې وګورئ.

له 1 څخه تر 3 ټولګي پورې، همداراز د نمرو په جدولونو کې به ND، DE، WD یا INS شامل وي:

| | |
|---|---|
| **WD** | په ښه ډول پوهېدل او د مفاهیمو او مهارتونو کارول |
| **DE** | په مفاهیمو او مهارتونو باندې د پوهېدو او کارولو سره د انتظار سره سم پر مخ روان دی |
| **ND** | په مفاهیمو او مهارتونو باندې د پوهېدو او کارولو په برخه کې پرمختګ ته اړتیا لري |
| **INS** | د زده کړو په برخه کې د پام وړ پایلو د ترلاسه کولو لپاره کافي شواهد نشته دي |

د دویم او دریم سمیستر د نمرو جدول به پورته یاد شوي نمرې او تبصرې ولري او همدارنګه به د موسیقی او بدني روزنې په برخه کې د پرمختګ په اړه معلومات هم پکې شامل وي.

## له 4 څخه تر 6 ټولګي پورې

له 4 څخه تر 6 ټولګیو پورې، د نمرو په جدولونو کې ستاسو د ماشوم د ژبې د هنرونو او ریاضیات اړوند پرمختګ په اړه نظریات شامل دي. نور مضمونونه، لکه روغتیا، د معلوماتو او اړیکو ټکنالوژي ((ICT)، ساینس، ټولنیز مطالعات او بصري هنرونه، د ژبې هنرونو او ریاضیاتو سره "یوځای شوي" دي، نو تاسو ممکن د خپل ماشوم د زده‌کړې په دې مضمونونو کې هم تبصرې وګورئ.

**له 4 څخه تر 6 ټولګي پورې، لومړی سمیستر:**

| | |
|---|---|
| WD | په ښه ډول پوهېدل او د مفاهیمو او مهارتونو کارول |
| DE | په مفاهیمو او مهارتونو باندې د پوهېدو او کارولو سره د انتظار سره سم پر مخ روان دی |
| ND | په مفاهیمو او مهارتونو باندې د پوهېدو او کارولو په برخه کې پرمختګ ته اړتیا لري |
| INS | د زده کړو په برخه کې د پام وړ پایلو د ترلاسه کولو لپاره کافي شواهد نشته دي |

**له 4 څخه تر 6 ټولګي پورې، دویم او درېیم سمیستر:**

| | |
|---|---|
| A | په بشپړه توګه پوهېدل او د مفاهیمو او مهارتونو کارول |
| B | په ښه ډول پوهېدل او د مفاهیمو او مهارتونو کارول |
| C | په ابتدايي توګه پوهېدل او د مفاهیمو او مهارتونو کارول |
| D | په محدوده کچه پوهېدل او د مفاهیمو او مهارتونو کارول |

د دویم او درېیم ټرم سمیستر د نمرو جدلونه به هم د مرکزي فرانسوي (یا د میکماو ژبه یا ګیلیک ژبه چې وړاندې کېږي)، موسیقی او بدني روزنې په برخه کې د پرمختګ نمرې او تبصرې ولري.

## له 7 څخه تر 12 ټولګي پورې

له 7 څخه تر 12 ټولګي پورې، د نمرو په جدولونه کې د هغو کورسونو اړوند ستاسو د ماشوم پرمختګ شامل دی چې هغه يې لولي. ستاسو د ماشوم زده کړې به د سلنو او لاندې تشریحاتو په کارولو سره وړاندې شي:

| | |
|---|---|
| 90—100% | د زده‌کړې د پایلو سره په تړاو، د مفاهیمو او مهارتونو عالي پوهه او پلي کول څرګندوي. |
| 80—89% | د زده‌کړې د پایلو سره په تړاو، د مفاهیمو او مهارتونو ډېر ښه پوهه او پلي کول څرګندوي. |
| 70—79% | د زده‌کړې د پایلو سره په تړاو، د مفاهیمو او مهارتونو ښه پوهه او پلي کول څرګندوي. |
| 60—69% | د زده‌کړې د پایلو سره په تړاو، د مفاهیمو او مهارتونو قانع کوونکې پوهه او پلي کول څرګندوي. |
| 50—59% | د زده‌کړې د پایلو سره په تړاو، د مفاهیمو او مهارتونو لږترلږه پوهه او پلي کول څرګندوي. |
| له 50% څخه ښکته | د کورس لپاره يې لږ تر لږه اړینې اړتیاوې نه دي پوره کړې. |
| INS | د زده کړو د متوقع پایلو په اړه د راپور ورکولو لپاره يې په کافي اندازه شواهد نشته دي. |
| N/A | کله چې د راپور ورکولو په موده کې یوه موضوع نه وي ارزول شوې، ښوونکي له "N/A" څخه کار اخلي. |

**د انفرادي پروګرام د پلان (IPP) راپور:** که ستاسو ماشوم د خپل پروګرام د یوې برخې په توګه د انفرادي پروګرام پلان (IPP) تعقیبوي، تاسو به د ښوونځي د کال په هر راپور ورکولو دوره کې د هغوی د پرمختګ په اړه تازه معلومات په جلا سند کې ترلاسه کړئ.

# د 3، 6 او 8 ټولګي ولایتي ارزونې

- د Nova Scotia ولایتي ارزونې د لوستلو، لیکلو او ریاضیاتو د مهارتونو ارزونه ترسره کوي.
- دغه ارزونې دا معلوموي چې ستاسو ماشوم د ښوونځي په کلونو کې څه زده کړي دي، له دې امله، زده‌کوونکو ته اړتیا نشته چې د دې ارزونو لپاره ځانګړې مطالعه وکړي.
- ښوونکي زده‌کوونکو ته د ارزونې د ترسره کېدو دمخه په هغه میاشت کې ملاتړ او چمتووالی برابروي.

- د ارزونې څو میاشتې وروسته، تاسو ته یو راپور درلیږل کیږي چې پکې تشریح کیږي چې ستاسو ماشوم په ارزونه کې څه ډول فعالیت درلود. ښوونکي کولی شي له دې معلوماتو څخه استفاده وکړي تر څو پوه شي چې ستاسو ماشوم څنګه پر مخ ځي او که هغه/هغې ته نوره مرسته پکار وي.
- په ټولګي کې د زدهکړې د ملاتړ لپاره بدلونونه معمولاً د ارزونې پر مهال شتون لري. که د ارزونې لپاره د کوم بدلون اجازه نه وي، د زدهکوونکي د پلان جوړونې ټیم، چې پکې والدین/سرپرستان هم شامل وي، کولی شي پریکړه وکړي چې څنګه پرمخ ولاړ شي: زدهکوونکی ممکن بې له تعدیل څخه لیکنه وکړي یا ارزونه ونه کړي.
- که چیرې ستاسو ماشوم د انګلیسي یا فرانسوي د زده کړې په برخه کې نوی وي، کیدای شي د ارزونې د لیکلو لپاره اړتیا ونه لرئ.
- که چیرې ستاسو ماشوم د ژبې د هنرونو یا ریاضیاتو په برخه کې د انفرادي پروګرام پلان لري، کیدای شي دوی اړتیا ونه لري چې ارزونه ولیکي.

**د ولایتي ارزونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره:**

- د خپل ماشوم د ښوونکي سره اړیکه ونیسئ یا د زده کړو او د د زده کوونکي ارزونه ماشومتوب لومړی دورې د پرمختګ ځانګړي ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ.

## د اړیکې معلومات

د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د زده کړو له سیمه ییز مرکز (RCE) یا د آیالتي زده کړو له شورا (CSAP) سره اړیکه ونیسئ.

- **د زده کړو لپاره د Annapolis Valley سیمه ییز مرکز** (AVRCE)
- **د زده کړو لپاره د Cape Breton-Victoria سیمه ییز مرکز** (CBVRCE)
- **د زده کړو لپاره د Chignecto-Central سیمه ییز مرکز** (CCRCE)
- **د زده کړو ولایتي شورا** (CSAP)
- **د زده کړو لپاره د Halifax سیمه ییز مرکز** (HRCE)
- **د زده کړو لپاره دSouth Shore سیمه ییز مرکز** (SSRCE)
- **د زده کړو لپاره د Strait سیمه ییز مرکز** (SRCE)
- **د زده کړو لپاره د Tri-County سیمه ییز مرکز** (TCRCE)
- **SchoolsPlus** په لویه کچه خدمتونه او ملاتړ وړاندې کوي او د Nova Scotia په هر ښوونځي کې د لاسرسي وړ دي

ستاسو په ټولنه کې د ملاتړ لپاره، اړیکه ونیسئ:

- **د YMCA ښوونځي مېشتېدنه** – د ولایت په سراسر کې د لاسرسي وړ دی
- **YREACH** – د Halifax د سیمه ییزې ښاروالۍ څخه بهر د لاسرسي وړ دی (HRM)
- **Immigration Francophone** – ستاسو د ښوونځي د مېشتېدنې د کار کوونکي له لارې د لاسرسي وړ دی